



www.salgay.com

Download from: aghalibrary.com




خبر نه یم چې زه څوک یم
د چا خپل یم، پردي څوک دي
بس فقط دومره پوهېږم
چې ساه اخلم، کاڼی نه یم
وښیم اوړم، بوټی نه یم
خو په زړه زه بې ژبې
د بې حسه بت په شان یم

زه انسان یم
هو! انسان یم

www.salgay.com

Download from: aghalibrary.com




Download from: aghalibrary.com

# شلېدلی امېل

افضل شوق

له اړخه
## دَ پښتو ادبي ملګري سهېلي پښتونخوا


## حقوق محفوظ

دا شعري مجموعه ، چي دَ " شلېدلی امېل " تر عنوان دلاندي په کال ۸۸-۱۹۸۷ع کي دَ افضل شوق په نامه مارکيټ کي په لومړي ځل خپوره شوې وه او اوس يې دويم بريښنائي جلد چي په کال ۲۰۰۷ - ۸ ع کې په ليکه کېږي .. همه حق يې دَ شاعر دَ زامنو عزيزيار خان، اولس يار خان، حکمتيار خان، قام يار خان او لُور هديل بريښنا افضل خان ( سکاني هديل ) په نامه محفوظ ساتل کېږي -


Download from: aghalibrary.com

# دَ کتاب په باب ...

| | |
|---|---|
| کتاب | شلېدلی امېل |
| شاعر | افضل شوق |
| له اړخه | دَ پښتو ادبي ملګري سهېلي پښتونخوا |
| دَ چاپ کال ( لومړی چاپ ) | ۱۹۸۷ – ۸۸ ع |
| دَ چاپ ځای | یونائیټډ پرنټرز۔ کوئټه |
| شمېر | ۱۰۰۰ کاپۍ |
| خطاط دَ اول جلد | شهزاد اورکزئ۔ کوئټه |
| کمپوزنګ دَ برېښنائي جلد | قامیار خان او حکمتیار خان |
| ټائټلونه | کلیم خان - کوئټه |
| عکسونه | محمد حسېن - کوئټه |
| بیهه - ( آن لائن ) | ۱۵۰ کالداري پاکستانۍ/ ۲۰۰افغانۍ/۱۲ امریکائي ډالر |

# دَ کتاب تر لاسه کولو درک

- یونیورسټي بُک اېجنسي خېبر بازار پېښور
- صحاف نشریاتي موسئسه کاسي روډ کوئټه
- عظیم پبلیشرز سوئیکارنو چوک پېښور
- دانش کتابتون ډهکي قیصه خوانۍ پېښور
- پښتو اکېډمي بُک سټال ، پېښور یونیورسټۍ
- ګوشه ادب جناخ روډ کوئټه

# انتساب دَ کتاب....

--- (( دَ پخواني چاپ ))

- په نامه دَ هغې جذبې ، چې ژبه په پښتو وئیلو ، سترګې په پښتو لوستلو او قلم په پښتو لیکلو پارَوي –

- په نامه دَ خپل محترم أستاد پروفېسر رښنواز مایل، چې دَ پښتو او أُردو ادب په اړه دَ لفظونو په لوبه کې دَ فکرونو دَ یو نامتو لوبغاړي په حېث پېژندګلوي لري–

... (( دَ اوسني برېښنائی چاپ ))

- په نامه دَ خپل وجود دَ هغه نیمي خوا ، چې زه یې په زمیني سفرونو باندي په نیمي نړۍ کي او دَ ویښو سترګو دَخوبونو په خیالوَرو فکري جهانونو کې تر دې دمه نه یوازې کړَولی یم بلکې اوس خو مې لا دَ ځان سره دَ لا محدودو آسمانونو په لور دَ بوتللو دپاره دَ تکمیل په غرض په داسې زینو هم خېژوي لګیا ده ، چې بیرته وربانديي راګوزېدل په ممکناتو کې نه راځي -

- په نامه دَ هغه چا، چې پښتنه نه ده خو زما دَ ځینو پښتوکتابونو دَ چاپَولو سره سره یې زما دَ پښتني شعري افکارو په انګلسیۍ کې ژباړل شوې کتاب (ټوئیسټ آف فېټس) په نړۍ کې دَ خپرَولو دَ پاره دَ الې بولنګ سره تر خپله وسه کومک هم شامل کړی دی– هو ...زما اشاره دلته زما دَ ګرانې کور وداني ډاکټر وهیبه سکاني افضل په لور ده، چې زما دَ ژوند دَ اصل روح او خوږې لورکۍ هدیل برېښنا افضل خان ( سکاني هدیل) مثالي مور هم ده -

**ــــ افضل شوق**

# څه خو به وایم

افضل شوق خپله شعري مجموعه چاپ کوي او ولې به یې نه چاپ کوي چې اوس په شعر وئیلو کې پوخ کاره یادېدی شي –او برسېره پر دې، دَ ځان دَ انفرادیت دَ مُشخص کولو په کار، دَ ملګرو نه که زیات اخته نه دی نو کم هم نه دی– دَ ده هسې شعرونه آخر څه ته او چته غاړه غزَوي ...

مازي دَ يار دَ موسولو په نيت
ټوکه په ځان کول څه ټوکه نه ده

---

دَ زړه په لوري هره تلونکې لاره
ازغي ازغي ده سر تر پايه څله؟

---

لمحه لمحه مې له وسواسه دَ مرګ
ځي او راځي زړه ته دَ ډار انديښنې

---

يو احساس دَ ژوند دی شوقه چې ما وژني
بل مرګي ژوندی ساتلی يم په وار وار

---

دا رنګ ګوا دَ ده په اړه دَ فکري اثباتيت رنګ دی چې که هم دغه يې رنګ او ګرځېدو ، نو دَ ده په لوی شاعر جوړېدو کې به هيڅ شک نه شي پاتې - په اصل کې شعر وئينه يو عجب فن دی ، چې په يوه وخت دَ فکر پوخ والی هم غواړي ، دَ جذبې نرماي او تودش هم او دَ ټکو مناسب او ښکلی چُونړ هم - په دې کې که يو څه کم شي نو خبره پوره يا په زړه پوری او يا دَ واړو زمانو غږ لرونکي نه ښکاري - دَ مثال په طور صرف دَ ماضي ذکر هم کُليت موندلی شي که چرته دغه پورته اسباب په کې برابر وي –

ياد ماضي عذاب هی يارو
چهين لې مُجهسې حافظه مېرا

اوس زما دَ خيال دَ تصديق دپاره شايد چې نور بحث ضروري نه وي .... هن نو وئيل مې دا چې ــــ دَ افضل شوق پر دغه حقيقت نظر دی او چې تظر يې پوره وي نو مخکې ذکر شوي شعرونه ترې په آسانه خپل وجود مومي ، ګنې دائی هم دَ تېر ببر ښکار شي او هسې شيان هم يقيناً په دې مجموعه کې شته -

افضل شوق زما په نزد دَ نظم او په نظم کې هم دَ مختصر نظم شاعر دی – دلته دَ ده کړاؤ ، فکري وحدت او دَ موضوع تفصيل زيات پرله پوری ليده شي ــــــ دَ مثال په طور دوه نظمونه وړاندې کوم –

## ""پيسې""

دَ سهار له لمر ختو
دَ ماښام تر خورېدو
ټول اقدار دَ ژوندانه

ورکړه راکړه ، بد او ښه
ګوا هر څه او تقاضې
نن سبا ښکاري پيسې

---

## " " پېژندګلوي

خبر نه يم
چې زه څوک يم ؟
دَ چا خپل يم ؟
پرېدي څوک دي ؟
بس فقط دومره پوهېږم
چې ساه اخلم
کاڼی نه يم
وينم ، اورم
بُوټی نه يم
خو په ژبه ، زه بې ژبې
دَ بې حسه بُت په شان يم
زه انسان يم
هو ، انسان يم

---

لکه ما چې اووئيل چې دائی دَ مختصر نظم شاعر دی نو په دې اړه پورتني دوه نظمونه په اختصار کې تفصيل هم ښاي او دَ ده دَ فکر په تجربې کې ـــــ دَ تجربې بيان هم – هم دغسې دَ ده نظم " تفس " او " دَ ضمير ژغ " او ځينې نور نظمونه پوره نظمونه ياد بېدی شي –

دا يو عجبه حقيقت دی چې دَ نظم ويونکي شاعر به دَ شعريت خوا اکثره دَ ده په نظر کې نه وي او يا به يې کمزوره وي- دَ دې سبب له نورو اسبابو نه علاوه دا هم دی چې نظم وَ فکر ته زيات دَ ملګرتيا لاس ورکوي او غزل وَ جذبې ته - ځکه نظم ګو شاعر اکثره نظم ويونکی يو اځې نه پاتې کېږي .. غزل هم ليکي – او دَ شعريت هغه خوا دلته پوره کړي - په افضل شوق کې دا څه قدرتي غوندي مجبوري ده چې څه کم څه زيات کم چرته نا چرته پاتې کېږي - دَ دې باوجود که دَ ده نظمونه دَ اختصار دَ صفت له کبله دَ ده په وس کې ځان په ډېرو ځايو کې ښاي نو دا به يې زيار هم ګڼو او کمال هم –

افضل شوق موضوعات لري – نظم ویونکی شاعر دَ غزل ویونکي په مقابله کې په دې اړه فوقیت لري چې هغه که هر څو مخته تګ او غواړي نوچوکاټ نه له سره نه شي وتی – دَ مثال په طور غزل دَ حُسن له لطافت او دَ عشق له سرخمۍ نه دېخوا آخوا څومره تلی شي ، دَ معاملې یو پوهاند ښه بوهېږي – کائنات یې موضوع دی خو لطیف او خواږه اړخونه به یې تر بحث لاندي وي – لاکن نظم کمپیوټر هم موضوع ګرځولی شي ، که جُزیات یې سم بیان شي – ګوا دَ نظم شاعر مفکر او تر حد دَ پاسه دَ یو شي نفسیات بین ضرور وي ، ګنې تفضیل ته معامله څنګه وتی شي ؟ او بیا هر نظم نوې بیان. یوه نوي اډانه او یو نوې ښار عمارت کوي- ځکه تر کُلیو لاندې نه شي راتلی او پدې اړه دَ نظم ویونکي ذهن زیاته زرخېز (Fertile) ګڼلی کېدی شي –

هن ... لکه پورته چې ما اووئیل ، افضل شوق دَ نظم وئینې ملکه زیاته لري - ذهن به یې که پوره فکري نه وي نو له څلورو نه درې برخې خو به ضرور وي او که داسې نه وای نو دا کار دَ بېکارۍ به یې ولې په سر اخیستو چې مروجې سانچې ( دَ غزل ) پرېږدي او نوي سانچې ( نظم ) خپلې کړي –

ما لکه اول چې اووئیل چې ښه ښه نظمونه یې شته او زما له ده سره نیږدې تعلق هم دا راته په ګوته کړي ده چې که دائی نظم ته پوره متوجه شي نو ..... دَ کار شاعر به اوګرځي او پښتو ادب به له موضوعاتو نه ډک او په موضوعاتو به موړ شی –

په آخر کې به دا اووایم چې دَ عبدالغني مبارز او عبدالسلام جوهر نه یې راواخلې تر محمود ایاز او سهېل جعفر خټک پورې ، دَ دغه کهول ( چې دَ تېرو لسو دولسو کالو نه شاعري کوي) یو داسې شاعر دی چې خپله څېره هم لري او خپل انفرادیت په قائمه ولو کې بوخت هم - دَ دغه کهول المیه دا ده چې شاته یې سم دستي دَ سید خېرمحمدعارف، ابوالخېرځلاند ، ګل شاه خوستي، سعیدګوهر، عبدالکریم بریالی، عمرګل عسکر او سرور سودائي کهول ولاړ دی او څه وروسته مقدس خان معصوم، صاحبزاده حمیدالله ، زه او نور یُو ـــــ دا ټول ګوا دَ دغې صدۍ دَ دویمې پنځوسمې بعد تحریکونه دي چې که دوئ خپل تشخُص په نوي فکر او نوي موضوع نه په کې اولري نو دَ روایت تسلسل به یو خوا ختم شي او دَ نوي موضوعاتو راتګ به بل خوا –

زه په یو څو ټکو کې ګوا دَ افضل شوق په اړه خپله دا وینا دغسې تمام ته رسَولی شم چې دائ دي غزل او نظم دواړه لیکي ولې چې زه ورته په دواړو کې اُمېندونه لرم – که هسې مه وای نو ما به اول دَ ده دَ غزل شعرونه نه ورکول – لاکن نظم ته دي دومره توجه ورکړي ( دَ پورته شعریت هم درلولو په خیال ) چې دائ زمونږ دَ ادب لمنه په موضوعاتو ډکه کړي - اقبال غزلونه دَ نظم په ژبه اووئیل ، دائ دي نظمونه دَ غزل په ژبه اووای – دا به دَ ده دَ شعریت حرف هم پوره کړي – په موجوده حال دَ ده دا مجموعه نوې هم ده او زړه راکښونکې هم چې نظمونه په کې جدا رنګ لري او غزلونه هم څه هسې رنګ....

تنده به وژني ما تر څو دَ آرزوګانو په دشت

کله به بخته!! راکوې ماته بلنه دَ ژوند

ژوند لکه لوُخړه ، زما وَ سترګو ته
ټول څېزونه هیڅ کړي په ګړځنه لار

ناپوهه نه ده ، خو دَ نوي پېغلتوب دَلاسه
نه پوهه وي په مینه ځان او نه سړی ګڼي ما

ـــــــــــــ پروفېسر رب نواز مایل

# دَ کتاب لومړی فلېپ

افضل شوق زمونږ دَ سیمې یو نامتو زُلمی او محَور شاعر دی - په خصوصي توګه په نوي کهول او په نوی ادبي دُنیا کې ځان له یو داسې لوړ مقام لري چې دَ دوئ نوم دَ نوي کهول دَ لومړي قطار په لیکوالانو کې په ویاړ اخیستل کېدای شي - دائ یو خپل انداز، خپل أسلوب او خپل یو فکر لري ـــ او دائ دَخپل لیک او انداز له کبله په جوت ډؤل پېژندل کېږي - دَ فکر ژورتیا او دَ خپل چاپېرچل دَ مسائلو کتنه .. او مختنه راویستل دَ افضل شوق دَ شاعرۍ غوره خصوصیت دی-

په شاعرۍ کې نظم او غزل جلا جلا میدانونه دي لاکن افضل شوق په دې دواړو میدانونو کې دَ خپل فکر آس برابر زغلولی دی - لاکن دَ ده دې مجموعې "شلېدلی امېل " څخه دا څرګندېږي چې نظم دَ ده دَ خوښې میدان دی او هیله ده چې په آئنده څو کالونو کې به دائ ځانته ډېر لوړ مقام پیدا کړي - په لنډ نظم کې په خصوصي توګه افضل شوق چې څومره په قدرت خپل مافی الضمیر څرګندولی شي ، هغه ډېر کم شاعران کولی شي-

هم دا رنګه زه هیله کوم چې دَ افضل شوق دَ شاعرۍ دا مجموعه به په پشتو ادب کې دَ ویاړ وړ زیاتوب وګرځي او په درنه سترګه به ورته وکتلی شي-

ـــــــــــــ سرور سودائي
۳/۲/۱۹۸۸

# دَ کتاب دویم فلېپ

افضل شوق په حقله په ځو کرښو کې دَ خپلې رائيې اظهار ، که اوو ايم چې نه صرف ګران دی بلکې ناممکن هم دی - ولې چې افضل شوق زمونږ دَ نوې قبيلې ځوان او ډېر ښه شاعر دی - هغه که نظم ليکي او که غزل .. دواړه ښه ليکي - او کله کله خو زه دَ هغه په شاعرۍ ګې ډېره بې ساختګي محسوسوم او زما په نزد په شاعرۍ کې تر ټولو لوی کمال هم دغه بې ساختګي ده - په خالي الفاظو او دَ فن په پېچيدګيانو شاعري ، شاعري خو وي خو شايد چې دومره اثر په کې نه وي - او ښه شاعر کله هم دا پابندياني نه قبلوي - هغه خو دَ زړه خبره کوي او هغه خبره که په ځان پسخوند وهل وي هم، نو ځان ترې نه ژغوري .. لکه شوق چې واي

مازې دَ يار دَ موسولو په نيت
ټوکه په ځان کول څه ټوکه نه ده

افضل شوق په حقله زه کم از کم هيڅ پېشن ګوئي نه شم کولی، ولې چې پېشن ګوئي خو به هغه خلګ کوي چې په دا فن ډېر ښه پوهېږي او دَ دغه فن په پېچيدګيانو پوهېږي - زه پخپله اوس دا وئيل غواړم چې په دا لږ عمر کې افضل شوق چې څومره کار کړی دی .. ډېر ښه دی او مخ کې خو به هغه نور هم ډېر څه کوي - نو بايد چې په دې لږ عمر کې دَ افضل شوق وَ دې کار ته په درنه سترګه اوګورو –

**سهيل جعفر**
۳/۲/۱۹۸۸

# نو وَ به وايم....

ښه مې په زړه دي .... چې تکه سپينه ورځ به وه ، خو په ما باندې توره شپه .... ځکه چې زما دَ ويدې نصيبې تورو زُلفو به دَ ګېنې وريځې په چم له ما څخه دَ رُونې لمر ژېړې وړانګې ژغورلې - لاکن دَ خوب وَ پستې غېږې ته به په دې نه ورتلم چې زه دَ خپلې نصيبې دَ کټ وَ سر ته ناست له مودو راهسې دَ هغې دَ وينښېدو په انتظار وم ـــــ ما وئيل داسې نه ، چې دلته زه ويده شم او هلته نصيبه را وينښه شي - ولې چې ما غوښتل ، چې څنګه يې سترګې دَ خوبه رُونې شي نو زه به ورته خپله خالي لمن نيسم او دا به يې دَ سکون په پيرزؤينو راډکوي - وروسته له دې به يې زه په سترګو کې دَ مُراد هغه چينه لټوم چې دَ امکان په لاره زما رسېده ورته ګرانؤ .... ښېخي ګران –

ولې چې ما په يو داسې کور کې سترګې غړَولې وې چې دَ زَړې کنډوالې غوندې به يې دېوالونو خپل تېر هېر وختونه ژړَول ، دَ کوټو دروازو به دَ ترلو په وخت په هغه کور کې دَ اوسېدونکو لوږه او خلاسولو په وخت دَ هغوئ دَ ځواني مرګو تلوسو دَ وير ترانې ژغولې - لا چې ياد بدلو خوبه کور ، لاکن ؤ به په مثال دَ يو

قفس ، چې دَ بند ېځونو ګرډکې خو به يې په اوسېدونکو راجارباسلي وې... خو دَ باران له څاڅکو ، دَ تيارو له يرغله او دَ ژمې او دوبې له تودو سړو بادونو به يې نه شولو ژغورلی –

نو ځکه .... که ما دَ خپلوانو او خواخُوږو مخته خپلې فطري تقاضې تر سره رسَولو دپاره دَ حالاتو دَ دېبانو سره غبرګ نه شوله ايستلی نو پټ په پټه خو مي نو سر دَ دېوالونو سره وهلی شو ..... هو .... ما به خپلي محروميانې ژړوَلې او څنګه چې به وخت مخ په وړاندي تېرېدلو ، نو زه به دَ خپلو ګُمانې اوښکو په سېلاؤ کې ــ دَ غمونو دَ يوغټ او ژوَر سمندر په لور بهېدم - او لا ، کله چې به دَ سمندر په اوبو ورګډ شوم ، نو يو لاس به زما په لورې راوَغزېدو او زه به يې دَ وچې په خوا ورکښ کړم - دغه لاس ، لاس نه ؤ ... يوه حوصله وه ، يو همت ؤ ـــــ حتی چې پښتو وه ، چې په ما کې يې دَ ژوند دَ تېرَولو او دَ حالاتو سره دَ جنګېدلو يوه تکړه جذبه پيدا کړه –

بس .... بيا نو څه ؤ چې زه دَ رښتيا وَ نړۍ ته راستون شوم او نصيبه مې هغسې دَ حالاتو په مات کټ ويده پرېښوله ..... دا کست مي وکړو چې زه به هغه ټول نيمګړي ارمانونه پوره کوم چې ما ړومبی په نصيبې باندي پوره کول غوښتو- اوس به يويو دَ تدبير په تار کې پئيم او دَ هغې دَ کټ په پښې به يې راټالوم -

دلته چې ما څنګه امېل وَ پئيلو ، نو هلته مې سم دستي نصيبه په کټ کې له خوبه جګه راکښېنسته او ما هم دَ کټ دَ پښې په ځای دَ خپلو تدبيرونو هغه امېل دَ نصيبې په غاړه کې واچولو او دَ يو فاتح په حېث ورته په ډېر وياړ وَ موسېدم ـــــ خو نصيبې راته دَ مننې دَ يو دوؤ تورو وئيلو په ځای زما دَ تدبيرونو امېل دَ لاس په جټکه وَشلولو او په سينې پورې يې داسې په ټينګه وَ نيولم چې دَ ژوندون په اړه ليدل شوي ټول خوبونه يې رارښتيا کړو - خو ... له بده مرغه مې دَ مُراد هغه چينه بيا هم وَ نه ليده .. چې ما به دَ ورکو غوښته- او لا ، چې يې غواړم اوس هم .... ګوا دَ وخت ترټلي او لمر سېځلي هر انسان دَ تندي دَ ماتولو چينه - هم ځکه خو زه په فطرت هغه پاته شوم څنګه چې ړُومبی وم -

ـــــــ افضل شوق- کوئټه

# دَ غزل برخه

( نعتيه غزل )

تږې اروا یم ...... اوبېده غواړمه
تا ته دَ ژوند چینې درتله غواړمه

فقط مې ته زړه ته بیا ځې او راځې
مقصد چې زه دَ ژوندانه غواړمه

یخ شي لفظونه زما دَ ژبې په سر
ستا په بابت چې ژغېده غواړمه

خوښَوم ځان هم وچه پاڼه لاکن
زه ستا په پښو کې رغړېده غواړمه

ټولې کړه زُلفې زما له سترګو دَ شپې
ځلنده لمره !! ویښېده غواړمه

راکړه په ګُوتو خپله لار اشنایه !
منزل ته زه شوق رسېده غواړمه

---

(غزل)

لاخو دَ باد مسته څپه یې ، چې په لاس نه راځې
لا خو جل نه یې ، فرښته یې چې په لاس نه راځې

لاخو مې بخت دی ستا په وار باندې تورسپې څټلی
لا خو بیا ته زما نصیبه یې ، چې په لاس نه راځې

لا خو چُړتو دَ سباؤن یم زه اخیستی په سر
لا خو بیا ته تېره لمحه یې ، چې په لاس نه راځې

لا خو ځنګېږم شپه او ورځ ستا دَیادو په ټال کې
لا خو دَ شعر هغه مصرعه یې چې په لاس نه راځې

لا خو زه ړوند یم ، سترګې هسې ټپوم درپسې
لا خو بیا ته خیالي وړانګه یې چې په لاس نه راځې

لا خو زه خپله په قفس کې دَ خپل شوق قیدي یم
لا خو بیا ته په ځان غره یې چې په لاس نه راځې

---

(غزل)

دا دَ مینې لېونتوب دی ، که جنون دی نه پوهېږم
زما دَ وېښو سترګو خوب دی ، که ژوندون دی نه پوهېږم

پانه پانه غوړېده کړم ، چې ښکلاؤ تخنوي ما
دا اثر دَ زُلمیتوب دی ، که افسون دی نه پوهېږم

څه سوب دی چې تاوېږم دَ لمبې غوندې له جوشه
زړه زَما یو سَوی چوب دی ، که مجنون دی نه پوهېږم

یو سبځل په اور دَ مینې ، بلې خوا پسخوند او ظلم
دا عجبه شان زیاتوب دی ، که قانون دی نه پوهېږم

دَ یار سترګې په ما سرې وي خُدای خبر چې مُدام ولې
دا یې خوُی دَ ماشومتوب دی که هسکون دی نه پوهېږم

تر سهاره په سرو اوښکو توله شپه رُوښوَل شوقه !
له سکونه یاغي توب دی ، که مرګون نه پوهېږم

---

(غزل)

چې پلمه ستا دَ ګودر یم ، نو هم ښه یم
که په ژوند ژېړ مازیګر یم ، نو هم ښه یم

چې بې تا نه رښتیا کېږي په سهار لا
که دَ خوب هغه منظر یم ، نو هم ښه یم

چې مَړې مې کچکولۍ سترګې په دید وي
که دي بیا ملنګ دَ در یم ، نو هم ښه یم

چې په سر دَ یار له خپله پخلا بخته

که ټول عمر مرَور یم ، نو هم ښه یم

چې زه شوق لا دَ زړګي په حېثیت ستا
که بندي ستا دَ ځیګر یم ، نو هم ښه یم

---

(غزل)

زه دي مزل کوم په پلونو باندې
ته مې ږدې پښې په ارمانونو باندې

زه دي له لمره په خپل سیوري ژغورم
ته کړوې ما په اورونو باندې

زه دي په لپو اوبَومه تنده
ته وژنې ما په سرابونو باندې

زه دي په مینه احساسات تخنوم
ته مې ږدې مالګې په زخمونو باندې

زه په تا خورمه دَ زړه غوښې په شوق
ته کوې یَه په وصالونو باندې

---

(غزل)

څوني دروغ شوله رښتیا دَ ژوند لا
چې باوري نه شوه یوساه دَ ژوند لا

ته دَ لمر سیال او زه دَ شپې علامت
تیارې ورکېږي په رڼا دَ ژوند لا

که وَڅیښمه سمندر په لپو
پاته به تږې وي اروا دَ ژوند لا

دَ زړه ویښتل په ښو نه دی عجب
پلمه دَ وِیر ښکارې ښکلا دَ ژوند لا

شوقه ! دَ مرګ له فرښتې څه ګیله
وایم چې بد دی نیت په تا دَ ژوند لا

---

(غزل)

تور په تندي تېَل څه ټوکه نه ده
دَ چا په نوم کېدل څه ټوکه نه ده

په زیږو کاڼو دَ حسرت تر چینې
دَ لڅو پښو مزل څه ټوکه نه ده

مازې دَ یا ر دَ موسَولو په نیت
ټوکه په ځان کول څه ټوکه نه ده

پښتو وئیل خو دي آسانه لاکن
پښتو ته ملا تړل څه ټوکه نه ده

یوازې زړه په بدل چاته شوقه !
سر په ورغوې ږدل څه ټوکه نه ده

---

(غزل)

څوک چې دَ ځان ګڼمه زه هغه پرېدی ګڼي ما
پسخوند وهي را باندې تل او لېونی ګڼي ما

نه مې ربلېږي په یار غم او نه سختې دَ ژوند
که څه هم دای دَ لارې یو تېره ازغی ګڼي ما

ناپوهه نه ده ، خو دَ نوې پېغلتوب دَ لاسه
نه پوهه‌وي په مینه ځان او نه سړی ګڼي ما

زه یې دَ زړه وَر ټکوم ، خو دا کڼه غوندې ده
نه اوري زما دَ مینې ژغ او هم ګونګی ګڼي ما

مینه مې ټوکه سنجَوي ، پوهېږم نه چې ولې
لا خو به وي خپله وړه او لا کوچنی ګنې ما

په ځان کې ورک دی هر سړی او ځان ځاني ده شوقه !
چا ته به ژوند سپارمه زه ، څوک به زړګی ګڼي ما

---

(غزل)

څنګه به لنډ شي په سترِیا دا دَ عمرونو مزل
په سترِي لار دَ سترِو سترِو ساعتونو مزل

دلته ژوندون هم بې قراره دَ قرار په لټون
سم له انسان سره کوي په سرو اورونو مزل

اوس خو مې خپل خوشمرِی رُوح هم دَ الوت په تمه
دَ مرګ وَ خوا ته لنډَوي دَ دې عمرونو مزل

په منډو ترنډو به تر څو داسې کوم په هیله
دَ آرزوګانو په دې دشت دَ اُمیدونو مزل

په تورو شپو کې مې دَ غم ځوانې سرتورې تیارې
دَ سپین سهار په لور کوي دَ تورتمونو مزل

دلته به شوقه !! تږی ته تر څو په تږو لارو
وَ هرې تندې ته کوې دَ سرابونو مزل

---

(غزل)

یو ، غاښو دَ وخت چیچلی یم په وار وار
بل ، نصیب خپل کړَولی یم په وار وار

یو ، خو ته لوُر یې دَ غرونو .. غرسنۍ یې
بل ، پښتو درته تړَلی یم په وار وار

یو ، خو ستا مینې ویده کړمه په ویښه

بل ، دي خوب را پاسَولی یم په وار وار

یو ، انګلی دَ رنجو په نیت هم تا یم
بل ، دي خپله خاک ګنلی یم په وار وار

یو ، مې ته برخه ګنلې دَ وجود یې
بل ، له ځانه در وتلی یم په وار وار

یو ، وسواس دَ ژوند دی شوقه چې ما وژني
بل ، مرګي ژوندی ساتلی یم په وار وار

---

(غزل)

زه چې په تا باندې شیدا یمه ، لا نور څه غواړې
ستا په وجود کې چې فنا یمه ، لا نور څه غواړې

یو دي دَ مینې په لوظونو یم ولاړ لکه غر
بل دي لالیه په رضا یمه ، لا نور څه غواړې

ما خو هر څه درباندې وَ بائیلل په مینه مینه
زیاته خو ستا په نامه پایمه ، لا نور څه غواړې

غم دي اشنا که خوشحالیانې نه پرېږدي وَخنګ ته
زه چې سوب ستا دَ خندا یمه ، لا نور څه غواړې

لکه مجرم زه لاس تړلی ستا په مینه کې نن
وینښته وینښته ګوره رسوا یمه ، لا نور څه غواړې

اوري که شوقه ! دَ ړلیـ غوندې هم کاڼي په ما
زه چې ملهم ستا دَ شفا یمه ، لا نور څه غواړې

---

(غزل)

چېرې دَ چا غریبي ، چېرې رسمونه دَ ښار
چېرې ستړیا ستوماني ، چېرې خنداونه دَ لار

ورک به له یو بله کړي ، دغه تیارې ما او تا
چېرې دَ غلا اشنائي ، چېرې وختونه دَ څار

څنګه به نه وي مانده مینه په تول دَ خلوص
چېرې دا زما بې وسي ، چېرې ظلمونه دَ یار

دَ ژوندانه فلسفه .... ښکاري دغه یو تپوس
چېرې خندا خوشحالي ، چېرې ځُرتونه دَ ډار

شوقه زړه کښونکی سپرلی لیدل په ویښه هم خوب
چېرې ښکلا کاغدي ، چېرې ګلونه دَ هار

---

(غزل)

زړه مې وَ سپړي زخمونه ، چې دَ شپې تیارې خورې شي
مړه مې هم شي حسرتونه، چې دَ شپې تیارې خورې شي

تلوسې مې لکه ستورې ، وړاندې زما سترګو ته ټولې
واغوندي سپین کفنونه، چې دَ شپې تیارې خورې شي

دَ مئین سړي په برخه ، په سوب دَ یار ناترسه
وي سُلګی، وِیر او آهونه، چې دَ شپې تیارې خورې شي

څوک په اوښکو ،ځوک په مینه،څوک دَخپل وجود په وینه
بل کړي هر څوک څراغونه ، چې دَ شپې تیارې خورې شي

ځان سره مې رڼاګانې ، یُو سي ټولې آرزوګانې
پاته شو زه او غمونه ، چې دَ شپې تیارې خورې شي

څه دي شوقه په سکون کې ، رنګ، رڼا او په ژوندون کې
تت کړي هرڅه تورتمونه ،چې دَ شپې تیارې خورې شي

---

(غزل)

که ژوندی ومه هم ، پښتو به کوم
که مړکېدمه هم ، پښتو به کوم

مازې یوه پلا دَ بخرکې غوندې
که برېښېدمه هم ، پښتو به کوم

قسم په خدای چې دَپښتون په نامه
که ګارېدمه هم ، پښتو به کوم

دَ باد وَ مخې ته دَ خلې په چم
که رغړېدمه هم ، پښتو به کوم

تر سیورې لاندې دَ اورونو شوقه !
که اوسېدمه هم ، پښتو په کوم

---

(غزل)

ځُوندي دَ حالاتو کله نه شي موسوَلی څوک
غم دَژوند فطرت دی، فطرت نه شي بدلولی څوک

سترګې خو مئینې شي ناڅاپه په یو چا ، ګنې
ځان دَ خپله لاسه اور ته نه شي غورځولی څوک

پلو غوندې به پاته شي سړی سړی تر شا په لار
ژوند دَ تمنا تر منزل نه شي رسَولی څوک

نن دَ تورو اوسپنو او کاڼو په قدرونو کې
ونډې له هیچا دَ خلوص نه شي خپلولی ځوک

خپل ځان دي فنا کړه په وجود کې زما وېرېږه مه
بې له مرګه رُوح له تنه نه شي بېلولی ځوک

ته خوار به تر څو لټوې شوقه ! دَ سکون چینې
زړه خو هغه دشت دی چې یې نه شي اوبولی ځوک

---

(غزل)

ټولې سرې سکروټې مړې شوې دَ ساړه اور په یره کې
پاته نه شو تود خلوص زیاته دَ مینې په جذبه کې

مازې ، یو بل خطا باسو دَ دروغو په خبرو
ګنې غله یُو موږ له اصله دَ رښتیا په معامله کې

زما له سترګو که عکسونه بیرته وران هم کړې لالیه !
ستا یادونه به ژوندي وي زما دَ زړه په جزیره کې

که شهید هم شوم په مینه کې دَ یار په سر یَه خلګو !
زما دَ ګور سنخته به ښکاري ژوندی یاد په ادیره کې

ته ګڼې خپله ښکلا یاره ! په څه دَ کاڼي کرښه؟
داسې ډېر ګلان وچ شوې دي دَ منې په غرمه کې

ښکاري شوقه ! دَ غمونو ما ته ببلې ببلې ګونځې
هر ساعت دَ ګونځلکې زندګۍ په دې څېره کې

---

(غزل)

دَ خوشحاله ژوند په تمه کله چېرې کله چېرې
مَړی بخت په اوږو وړمه کله چېرې کله چېرې

دَ خپل تږو حسرتونو دَ یو ګوټ تسکین دَپاره
زړه په لاس کې ګرځومه کله چېرې کله چېرې

دَیو ګل وَ ننداریې ته په سپېره ویجاړه دشت کې
مړاوې سترګې غړَومه کله چېرې کله چېرې

زه هم ځانته شنه لُوخړه یم په څیر دَ محرومیانو
په سر خاورې بادَومه کله چېرې کله چېرې

زه یو پاڼه ، وچه پاڼه ، دَ سیلۍ دَ مخې پاڼه
ځان دَ مرګ له پښو ساتمه کله چېرې کله چېرې

دَ بې کوره ژوند دَ لاسه په تودو غرموکې شوقه !
ځانته  سیوری لټومه  کله چېرې کله چېرې

---

(غزل)

دوې لمحې مې هم بې غمه نه پرېږدي تنده او لوږه
ما په ځان پسې پسې  تل  زغلوي تنده او لوږه

لا مې مړ کړه لويه خدايه !لا مې کانړی په وجود کړه
چې نه  دغه زندګي وي او نه  وي تنده او  لوږه

دَ ناترسه وخت څاپېړې زما په مخ لګي او ژاړم
خود به ژاړم، چې مې اوښکې ماتوي تنده او  لوږه

نه خو کورلرم ،نه کلی ،نه مې بل ښکاره مسکن شته
لور په لور مې په دې ژوند کې ګرځوي تنده او لوږه

په  هر ګام ، په هره لاره ، دَ انسان په برخه وي تل
ژړاګانې  او  غمونه  ،  محرومي  تنده  او  لوږه

راشه شوقه چې په ګډه هغه ژوند ما او تا خپل کړو
چې همېش په يوه حال وي ، نه لري تنده او لوږه

---

(غزل)

لکه هوا ، په  سُرت ګُلېږې  راته
وينم دې نه  خو  محسوسېږې راته

ويلې شوم زه ماښام ته ستا دَ زُلفو
ته لا  په  لمر حُسن کوکېږې راته

پام دې غلط  په شاعری کړم څنګه
قسم په  خدای  ډېره يادېږې راته

کله رانجه هم شه په سترګو کې زما
تر څو به زړه زړه کې ګوتېږې راته؟

هرې څېرې ته شوقه ګورم ځکه
چې په هر چا کې ته ښکارېږې راته

(غزل)

وینم له ځان سره سره زه همېشه ملګرې
دَ ورځې دا خپله سایه ، دَ شپې تیاره ملګرې

لا خو بد بخته یمه زه ، لا به یم سوړ په خلوص
چې نه لرم خوا خوږی یار، نه یو خوږه ملګرې

په هیله هیله دَ سپرلي مې ټولې پېغلې لمحې
دَ وچو پاڼو په شان شوې له باد سره ملګرې

زه هم هغه ، ته هم هغه ، خو نن دَ مینې په څیر
نه شولو پاته زه او ته یاره ! هغه ملګرې

چرته چې ځم ،سره سره مې وي دَ سیورې په شان
دَ ژوند احساس او دَ مرګې یو وسوسه ملګرې

که څه هم ښکارم بې اشنا ، یوازې نه یم شوقه !
لرمه زه هم په جهان یو اندېښنه ملګرې

(غزل)

چرته جهان،چرته دَخوار اندېښنې
یو دَماښام ، بل دَ سهار اندېښنې

واي وَ ماته ښه راغلی په خندا
دَ ژوندانه په هره لار اندېښنې

چېرې به ځغلي دا انسان له ژونده

پرتې دي لور په لورا مبار اند ېښنې

سرې سرې نن ژړوي په سل ډول
يکې يوازې دَ روزګار اند ېښنې

لمحه لمحه مې له وسواسه دَ مرګ
ځي او راځي زړه ته دَ ډار اند ېښنې

دَ تللي درد دَ بيا راتګ په هيله
لوبَوي شوق دَ انتظار اند ېښنې

---

(غزل)

تر څو به لويه خدايه ! زه ګالم خوږمنې څړيکې
دَ سرو سرو پُرهرونو او دَ غم خوږمنې څړيکې

ساړه ساړه آهونه او سُلګى مې دي په برخه
که وينس يم که ويده يم، تل زغمم خوږمنې څړيکې

ځګېروی لرم له درده دوې شېبې مې آرام نه شته
په ماکې مسلسل کوي ماتم خوږمنې څړيکې

زه هم دَ ژوند دَ لاسه په وجود لکه يو زخم
په خوږو کې راګېر يم ، لوبَوم خوږمنې څړيکې

دَ مينې له رومبې ورځې په تاؤ دَ خپلو ساهو
تر اوسه لا دَ زړه ټکورَوم خوږمنې څړيکې

لا څه دي که يې وَ چاؤدي سل ځايه دَ زړه غوښې
په برخه دي دَ شوق هغسې هم خوږمنې څړيکې

---

(غزل)

غم به تر څو درَوي غرونه وايه؟
زما او ستا ترمنځ سکونه ! وايه؟

چې له سترېیاؤ او له لوړو تندو
په تا کې نورڅه دي ژوندونه ! وایه؟

راشه په مینه مې مرئیی کړه جنۍ
غلا کوې څله زما خوبونه ، وایه؟

زه یمه شل په پښو او ته غرسنۍ
څه به مو یو شي قسمتونه ، وایه؟

په مورنۍ ژبه که شولې ګونګی
شمله دي څوک مني پښتونه ! وایه؟

ترڅو به شوق وي وچه پاڼه غوندې
نصیبه ! څه شول بهارونه وایه؟

---

(غزل)

ستا په څېره دَ زُلفو لوېږي سیورې
که ماځیګر شو ، چې خورېږي سیورې

بېلتون دَیار نه دی عجب په ماښام
له سُرته هم په شپه بېلېږي سیورې

په پښو کې ستا ږدمه زړګی له خیاله
که دېوالو خوا ته ټولېږي سیورې

چې لمر دی اور ، نو به په مځکې هم خود
سم له انسان سره سوځېږي سیورې

شپه که هرڅو وېرَوي سترګې شوقه !
رڼا ته بیا هم نه تمکېږي سیورې

---

(غزل)

لمده لمده غوندې په اوښکو يوه سپينه شپه
ګړۍ ګړۍ مخته راځي دَ چا غمګينه شپه

مينه خو پر پرېږده، اقرار پر پرېږده، چې په ترخ کتوهم
خوله خوله شي دَ اشنا يخه واؤرينه شپه

ما دي په غلو سترګو کې غلا دَ مينې وَ نيوله
پټه چې تا کړه په پلؤ له ما سپوږمينه شپه

کله سپوږمۍ ، کله دَ لمر، کله دَ ستورو په نوم
لمانځم په مينه دَ ښائيسته يار نازنينه شپه

ښکاري اوس هم راته هغۍ لا دَ ګمان په سترګو
دَ بُت په شان هغه ګونګۍ غوندې حسينه شپه

شوق هم اکثره په خوبو کې منتظره دَ ځان
ويني په اوښکو کې لمده دَ چا مسکينه شپه

---

(غزل)

اَوړې تر تاک له خپله ګائيه ځله ؟
جامې ځيرې په ما اشنايه ځله؟

هلته په سترګو کې ګائېږي راته
دلته په ژبه ګونګ شې وايه ځله؟

که نصيب نه وای دَ مانيانو ملنګ
کېږدی به ځيرې وای سل ځايه ځله؟

دَ زړه په لورې هره تلونکې لاره
ازغې ازغې ده سر تر پايه ځله؟

لوې لمنې که ډکېږي په خواست
منګول دَ شوق خالي ده خدايه ! ځله؟

---

(غزل)

ته مې رُوح ، ته مې زړګی ، ته مې ښه
له خپله ځانه ، ځانته ما نيږدې ګڼه

څه به وکړي ، دَ غماز درانه ژغونه
که زموږ مينه شي په غوږ ور ته کڼه

دَ وصال په تمه ياره ! ورځې شپې زما
دَ فراق په مېچن دومره مه اڼه

خپلو اوښکو غوندې ما سترګو ککو نه
دَ ښو په چاڼ له دړده مه چڼه

دَ وجود په وچ چمن شنېزه نه غواړم
بس سپرليه ! دَ زړه ګل مې وَسپڼه

تورې شپې که رُوڼوَل غواړې اې شوقه !
تر سپوږمۍ هم دَ دړد اوښکه وي رڼه

---

(غزل)

زړې کړلې حالاتو زما تورسرې تلوسې
هغه له خپله بخته مرَورَې تلوسې

دَ وخت په سترو لارو ، په هر ګام ، هره شېبه
نُوکان وهي ډُوبرېږي سربېرې تلوسې

همېش مې سترګو وړاندې دَ ټپي مارغه په شان
بې وسه ټپَرېږي پرې وزرې تلوسې

نه ځان سپارې وَ مرګ ته او نه توان لري دَ تګ
پرتې مې ګور په غاړه دي سپين سرې تلوسې

کله چې يرغل دَ محروميانو په ما وَشي
هم ماتې مې په ملا شي زورَورې تلوسې

وینم شوقه تلدَ زړه په خلاسو دربچو کې
دَ وخت وَ ښو لمحو ته منتظرې تلوسې

---

(غزل)

چې زما په وینو پرېمنځې منګولې
بیا به وَبلته نه کړې سرې منګولې

ستا دَ څېرې ښائیست څه کم دی چې لا
دَ بُوډۍ تال ته اچوې منګولې

ګوره چې زما په غم ، غمجنه نه شې
ګنې په ځان به لګوې منګولې

ستا دَ نصیب کرښې له ما ژغېږي
له چا او چا به پُټوې منګولې ؟

زړه که دي شوق ته تالی نه وهي نو
څله په مخ له شرمه ږدې منګولې

---

(غزل)

کوڅه کوڅه دَ ژوندون سپېره پرته ده څونې
لمحه لمحه دَ سکون په وِیر اخته ده څونې

دَ نوې ژوند په لانجو او دَ خلوص په زوال
څېره څېره دَ پرون نن غمزده ده څونې

مینه رښتیا ده اشنا ، رښتیا پُټېږي کله ؟
قیصه قیصه دَ مجنون ، ګوره ښکاره ده څونې

نه شته ریښتونی خلوص، ښکاري یوازې غرض
جذبه جذبه دَ ترون ، په خوند ترخه ده څونې

دَ ورځې شپې تر وصال، شوقه په لار کې دَ عشق
شېبه شېبه دَ ببلتون ، په کچ اوږده ده ځونې

---

(غزل)

نخښې په لاره ستا دَ پښو غوارمه
خيالي اشنا تا له مُودو غوارمه

مځکه بې تا را ته سوراور ده ځکه
لاره آسمان ته دَ ختو غوارمه

زياته خو ورک شومه له ځانه زه هم
لا به ستا سترګې څو تر څو غوارمه

په ويښو سترګو ستا ليدل لکه خوب
ورک دي دَ خيال په جزيرو غوارمه

وَځم دوه لاسه چې دَ ژوند له ښاره
خود به مسکن په اديرو غوارمه

راشه چې خپل شو ،له پرېدئيو شوقه !
پښتو به درکړم ، خو پښتو غوارمه

---

(غزل)

کله چې ژوند عبث دَ مرګ يو وسوسه وګڼم
نو خپل وجود هم په ژوندي ځان اديره وګڼم

بيرته راغبرګه شي زما چيغه له هر لورې دَ غره
دا خپل احساس چې دَ ژوندون په تول مانده وګڼم

اور اور بدن هم په دې خيال شي يخه واؤره زما
چې کله ځان دَ لمر لالي سره سايه وګڼم

دَ سترګو وړاندې را ته تت شي څرکېدونکی لمر هم

چې نصيبه دَ ژوندانه په ورځ ويده وګڼم

زړګی مې وَغواړي چې اوښکه اوښکه شم په وجود
شوقه! چې ستا خيالي مانۍ هم کنډواله وګڼم

---

(غزل)

نه رسي سرته يو منزل يوازې
ګران دی دَ ژوند په لاره تلل يوازې

لايې په ګور کې ، لا دَ کور په غولې
اور دی سوراور دی اوسېدل يوازې

يو وسوسې دي، بل دَ مرګ علامې
دی زنکدن شپه تېرَول يوازې

که اوسېده کړم په جهان کې،نو څه؟
بې تا خپل ځان ګڼمه تل يوازې

په ګوبۍ ځان خو هيڅ امکان نه لري
دَ غم په سېند کې ژوند کول يوازې

له ځانه لاس وينځل دی شوقه! فقط
بڅرکې غوندې غورځېدل يوازې

---

(غزل)

نه مې پرېږدي سيلۍ بادونه دَ سپرلي په غېږ کې
پاڼه وجود رغړم زه خوار دَ زندګي په غېږ کې

چا خو له خوبه ولاړ وَليد دَ خپل خوښې محل
او لا دَ چا کيږدۍ کړه څيرې ، بې وسي په غېږ کې

دَ پېغلتوب په هيله هيله زما ماشومه مينه
مړه په ارمان شوه له مُودو دَ محرومي په غېږ کې

کله خو ته هم غرَوه سترګې سهار په سپېدو
ترڅو به بخته! توره شپه تا کړَوي په غېږ کې

دَ هجر شپې ستا دي قسم وي په دې خپلو تيارو
خوب ته مې پرېږده، چې ما يار ته وَر ولي په غېږ کې

وَ سپاره شوقه! اُمېدونه هم وَ هغه کور ته
چېرې چې مرګ ستا آرزوګانې ويدَوي په غېږ کې

---

(غزل)

له تا مې ژوند ، له تا مرګی دی
بې تا مې کور هم کورَکی دی

تمه له چا دَ خپلوۍ څنګه؟
ما ته لا خپل وجود پرېدی دی

هرې قفس غوندې سينې کې
تندې نيولی يو زړګی دی

دَ يوه کور په غولې هم .... لا
څوک سکنی، څوک مېرنی دی

هسې دي سترګو کې تلمه
ګنې خو زړه مې ستا مرئيی دی

په لاس کوې ، که ماتوَې يې
شوق دَ شيشې نازک بنګړی دی

---

(غزل)

نه کړي ثمر دا بې ثمره شينکۍ ونه دَ ژوند
تش په اُميد پای ته رسېږي هره غوښتنه دَ ژوند

زړګيه ! مه غواړه فرار، ته په کوګل کې ښه يې
دَ بخت په تا دغه پيرزۇ شي، پيرزۇينه دَ ژوند

تنده به وژني ما تر څو دَ آرزوګانو په دشت
کله به بخته ! راکوې ما ته بلنه دَ ژوند

دَ بخت په دې يو څو ګلرنګه دقيقو څه باور
يادېږي لار هغسې هم درسته ازغنه دَ ژوند

اريان په دې يم چې کوم کوم پُرهار به زه ګنډمه
ښکاري سل ځايه راته څيرې دا لمنه دَ ژوند

مه بلوَه په خپل مزار شوقه ! دَ اوښکو ډيوې
څوک به دَ ګورله مړي څه کوي پُوښتنه دَ ژوند ؟

---

(غزل)

خدای دي را وَباسه په فال دَ مينې
چې په تندي دي کښېږدم خال دَ مينې

دلته خو سترګې مېلمستياوې کوي
هلته په زړه کې دی ډُوکال دَ مينې

ازغو په څوکو دَ مزل له جوره
سترګې هم ژاړي لا په خيال دَ مينې

دَ نفرتونو په دې سرو اورونو
خوُنې توربېږي کال په کال دَ مينې

ستا دَ خيالونو په ويدې نړۍ کې
شپه او ورځ ځانګې شوق په تال دَ مينې

---

(غزل)

لرمه دَ ځيګر په نغرَي کې سره سکروټه

توده او ترکېدلې دَ زړګي وره سکروټه

يو ځل مې لا نصيب کړه په ساړه ژوند کې خالقه !
هغه رنګه سور اور ، هغسې تاؤ ، هغه سکروټه

تر اوسه مې لوګېږي لا دَ زړه په پستو غوښو
هغه دَ پخوانۍ مينې يوه يوه سکروټه

يو ورځ به په وجود خپله يره شې له غروره
لاليه ! څه پروا ده ، که نن يې توده سکروټه

لمدې سترګې به ستا څوک په دُسمال پاکوي شوقه
هر څاڅکی دي دَ اوښکو دی په شان لکه سکروټه

---

(غزل)

تږي اروا يمه دَ ژوند ، ما کې اوسېږي تنده
څومره چې زړه اوبه م کوم ، دومره زياتېږي تنده

خارمړي ژونده ! ته په تريخ ځان دونې خوږ ولې يې
خدای دي ميرات کړه ، چې په تا هم نه ماتېږي تنده

څنګه به زما تلوسې رَسي دَ مُراد چينې ته
نه شته په ما کې توان دَ تګ ، په ما غمېږي تنده

مه ځغلوه دَ ژوند په دشت دَ اُمېدونو اسپې
ستړی به ځان کړې په سفر ، سفر يادېږي تنده

تږي آرزو يم دَ خلوص ، لکه سپېڅلې مينه
دَ چا په مينه مې دَ مينې نه ماتېږي تنده

---

(غزل)

کله دي نه وي دَ جسمونو تړون
که دائمي وي زموږ دَ زړونو تړون

تر څو به زړونو له اوړې راکوي
په سپین کاغذ دَ شنو لفظونو تړون

مرګی به څنګه ما او تا بېلوَي
لرُو تر منځ چې دَ رُوحونو تړون

دَ سر لوړې او دَ انا په غال کې
وَخوړ نفرت زموږ دَ کلونو تړون

سپور که دَ باد په اوږو شي هم شوقه !
نه رښتیا کېږي دَ خیالونو تړون

---

(غزل)

زه دَ لېونتوب وَ انتها ته رسېده غواړم
ځکه خو دَ مینې وَصحرا ته رسېده غواړم

مازې په دروغو دَ دروغې تسلی په نیت
څومره لېونی یم چې رښتیا ته رسېده غواړم

ځان پوهی کړه غمازه !په معنا دَ مجازي مینې
مه مې تړه لاره ... ګوره چا ته رسېده غواړم ؟

مینه که ګناه ده ، نو بیا ګورئ غمازانو څه؟
زه هم ګناهګار یم وَ سزا ته رسېده غواړم

نه خو لېونی یم ، نه مجنون، فقط شاعریمه
تل په تخیل کې وَ ښکلا ته رسېده غواړم

---

(غزل)

ستړي زندګي ده ، که ستړجنه لار
دا ... کړه وړَه اوږده ازغنه لار

نه  لري منزل  دَ  ژوندانه مزل
تش په وړاندې تله دي په غمجنه لار

نن سبا خو مينه دَ جذبې په څير
ښکاري  دَ اغراضو  فرېب‌جنه لار

ژوند لکه لوُخړه زما وَ سترګو ته
تول څيزونه هيڅ کړي په ګرذجنه لار

مخ په وړاندې تېرې شوې دَ وخت کډې
پاته زه تنها شوم په خوړجنه لار

کله به رسېږي  وَ  منزل ته  شوق
ده ...،  تر لرې لرې ارمان‌جنه  لار

---

(غزل)

دَ خوُشي خيال په رنګه‌زه‌هم‌لېونتوب دَلاسه
اوسم له ځانه بې خبر دَ  مئينتوب دَ لاسه

دَ نن په دې ناولې وخت او په لړلې ژوند کې
خلګ سړی نه مني څوک دَ سړيتوب دَلاسه

ګيله به څه کوم له تا ، لا دَ ګيلو نه يې اوس
وړم به‌دې‌هر زور او زياتی دَ‌ماشوم‌توب دَلاسه

سترې‌ستومانه‌شوم‌په‌ژوند ، خو دَ رنځاؤ په‌ځای
شومه ملګری دَ تيارو ، دَ ياغي‌توب دَلاسه

دومره‌مجبور يم چې غندلی نه شم ظلم دَ يار
دَ خپلې مينې دَ جذبو دَ  مرئيتوب دَ لاسه

بيهه  دَ  مينې شوه ارزانه په بازار کې شوقه!
نن دَ پيسو دَ  ډېر لالچ او دَ زياتوب  دَ لاسه

---

(غزل)

مینه دي یاره ! څه جنجال شوه راته
چې دُنیاګۍ هم خوب او خیال شوه راته

خله به نه زَړېږم ستا په هجران
هره لمحه چې په کې کال شوه راته

ستا په جنون کې رُومبۍ ورځ خو لا څه
شپه هم اریانه زما په حال شوه راته

وَ رسېدمه وَ معراج ته دَ عشق
که رسوائي په تندي خال شوه راته

دَ شوق په سترګو کې لاهو انجلۍ !
هره نخره دي هم مثال شوه راته

---

(غزل)

نور مې په اوښکو نه بلېږي څراغ
سهاره ! رُوڼ شه تېرَېږي څراغ

دَ باد په شان ظالم غماز دَ مینې
په چا هم بل نه پیرزؤ کېږي څراغ

اې دَ اُمید لمره ! سهار که په ما
نه شپه تېرېږي ، نه رُوښېږي څراغ

زما دَ وجود په وران مزار کې همېش
غمجن زړګی لکه لوګېږي څراغ

دَ غم په شپه مې لکه ستوري په مخ
قطره قطره اوښکې ځلېږي څراغ

تل دَ شهیدو آرزوګانو په ګور
شوق هره شپه لکه سوځېږي څراغ

(غزل)

اکثره خو دَ مینې په درک دَ غوښې زړه
ما هم وَ ژړَوي دغه کودک دَ غوښې زړه

بریښنا غوندې مې پړک وهي په تریخ مانده احساس
په هیله دَ ژوند پروت له غمه ډک دَ غوښې زړه

په ښار کې دَ سپین پوستو هر یو موم غوندې سړی
کوګل کې ګرځوي تر کاڼي کلک دَ غوښې زړه

تر څو به خوري څاپېړې دَ حالاتو په وور قد؟
دا زما یتیم بې کوره ، خوار هلک دَ غوښې زړه

په ژبړ ناروغه لمر دَ خپل لالي ساړه خلوص
بس مه چاؤده نور شوقه دا ګزک دَ غوښې زړه

(غزل)

عجبه ښهر ؤ چې نن یې خرابې لټوم
تر خاورو لاندې یې زړې ورکې کوڅې لټوم

لکه یو ستړی مسافر دَ اُمیدونو دَ دشت
زه هم وَ ځانته دَ دروغو حوصلې لټوم

ستا دَ غرض له بله اوره ، زه الوتی لُوګی
اوس په فضا کې دَ وجود خس او خاښې لټوم

شپه که سهار لري ، سهار جوړ کړه باداره په ما
زه هم له ستورو سره ویښ ، سپینې سپېدې لټوم

تش دي په خیال تنده دَ رُوح زه ماتوَلی نه شم
ته خو سراب یې ، زه دَ ځان تږې څپې لټوم

دَ پرونې ورځې دَ عشق په ښکلې ښار کې شوقه
دَ آرزوګانو نړېدلې کنډوالې لټوم

---

(غزل)

کوي به څوک په پرېدې ځُلې څه باور
نه شته په ځان لا دَ شېبې څه باور

لالیه ! پام کوه چې مات یې نه کړې
زړه خو شیشه ده، په شیشې څه باور

کله به وي جار جار او کله نفرت
په موسمي ډوُل یاراني څه باور

هر څه به خاورې شي له خاورو سره
په ښکلې نقش، ښکلې څېرې څه باور

ورک به له ځانه شې تیارو کې دَ غم
شوقه ! راځه په تورې شپې څه باور

---

(غزل)

دَ سترګو دَ بڼو له غشو ځان ژغوره زړګیه !
په چل چل به دې مړ کړي، په ډېر پام ګوره زړګیه !

وړه غوندې دُنیا به دې تباه شي له هوسه
په زور زور مه درزېږه ، په قرار ښوره زړګیه !

دا ستا خیرن وجود به په خلوص که خدای کول زه
وینځم په مینه مینه دَ اشنا توره زړګیه !

اریان دې په خپل ژوند کړمه، بادار دې تا میرات کړي
دا دومره ولې دیغ یې له دې خپل کوره زړګیه !

تاؤونه که دَ مینې دَ سره اور سهلی نه شې

بیا ولې دَ شوق غوښه سوځوَې نوره زړګیه!

---

(غزل)

لا به دَ غم کډې باربږي کله؟
لا به دَ ژوند شونډې موسېږي کله؟

خوله خوله شو وَ سره لمر ته انسان
لا به آسمان ګوره ...، ژړېږي کله؟

زیاته خو زما حوصلې هم شلې شوې
لا به مزل سر ته رسېږي کله؟

رڼا هم تته غوندې شوه دَ ستورو
لا به دَ شپې اوربل ټولېږي کله؟

ګوره.. چې اې سراب سراب زړګیه!
لا به ستا وچ کوُمې لمدېږي کله؟

هره څېره شوه ګونځې ګونځې دَ ژوند
لا به دَ شوق احساس ځوانېږي کله؟

---

# دَ نظم برخه

## نظم ۱ـ "نعت شریف"

چې دَ شپې له ګڼ اوربله

دَ سهار ځېره ښکاره شوه
نو دَ وازګو جوړ خدائيان هم
ټول په کوُزو کوُزو سترګو
په شيشه غوندې کورو کې
دَ غرور په دالان ناست ناست
په وړانګو دَ لمر شول ويلي

---

## نظم ۲ ـ "ماتې څانګې"

که څه هم
لوُند دی حلق دَ تږو زړونو
دَ باراني سترګو په اوښکو باندې
که څه هم
رُوڼې ينښېدلې خولې
دې ګرځېدلې دَ ماڼيانو خښتې
خو بيا هم
ګورئ ، تکه سره ده مځکه
دَ ژوندانه تر وني لاندې دلته
او هر زيارکش دَ ماتې څانګې په چم
په پرې پرې غاړه راټالېږي مُدام
دَ قصابې دَ سره پُسه په رنګه
چې ګوټ ګوټ وينې ځينې څاڅي کښته

---

## نظم ۳ ـ "مړه پلونه"

دلته چې ګام اُوچتُومه وړاندې
هلته مې سم دستې وَ زړه ته راشي
داسې يو سام
چې ما به مړ کړي مرګی

داسې يو وام
چې زه به هم خاورې شم
دَ باد په چم دَ تېر وتلو خلګو
چې لا يې نخښې دَ پښو ښکاري په لار

---

## نظم ۴ ـ "اوراو اوبه"

ياره ! مه پورې کوه اور
زما دَ زړه ورې نړۍ ته
ګنې، زما دغه لوګی به
دَ اوبو ډکه وريځ شي
ستا په سر باندې دَ وَسې
بيا به خپلې لمبې ژغورې
دَ باران له سړو څاڅکو

---

## نظم ۵ـ "ژوندی مَړی"

سړی مړ دی دَ دننه
تش وجود دی چې ښورېږي
دَ هوا په رُخ هر کله
لکه مَړی په تابوت کې
په اوږو باندې خوا خوُږېږي
راولي خپل اديرې ته
له پرېدي لرې ولاته

---

## نظم ۶ـ "څوک خپل، څوک پرېدی"

ټوله لمن کړم له چا ، وَ غزَوم چا ته لاس

ځینې زبېښل کړي وینه ، دَ چا په سترګو کې اور
ځینې په خوُی فرښتې ، دَ چا شیطان سکه ورور

***

ټوله لمن کړم له چا ، وَ غزَوم چا ته لاس
ځینې آسمان ته ګوري ، دَ چا نظر دی په ځان
ځینې سپېره په خاورو ، دَ چا نوموَړی دی شان

***

ټوله لمن کړم له چا ، وَ غزَوم چا ته لاس
ځینې خوارہ ژغېږي ، دَ چا لستوڼې کې مار
ځینې دي کاڼي په زړه، دَ چا مثال دی دَ خار

***

ټوله لمن کړم له چا ، وَ غزَوم چا ته لاس
ځینې څېرې لري سل ، دَ چا شبوه ده لباس
څینې مانده دي په تول ، دَ چا کوټه دی اخلاص

---

## نظم ۷ــ "حېرت وړې سترګې"

پراخ تندی دَ سړیتوب لا
ګوُنځې ګوُنځې دی وَ ګورئ
نن په وٍیر دَ هغو خلګو
چې په دغه ا ېټمي دور کې
لوږو تندو له سوبه
په تن ښکاري تش هډوکي
وچ هډوکي ، وچ هډوکي
په مثال دَ هغو وَنو
چې خزان وي رېږوَلي
خو ، بیا هم دي حیرت وړې
هغو زړونو ته دَ غوښې

چې لږ هم دَ خلې هو مره
ښکارې نه پرې درد بدلې

---

## نظم ۸ـ "په شپېو کې دَ هجر"

غوارم
چې ستا دَ ویده عکس په تندې
دَ خپل نامه وَ لګومه ټیکه
خو
چې نرۍ څوکه در ورم دَ قلم
ستا غنم رنګ نقشو نه تت شې دُونې
چې دَ یو شنه ورکې خال په ګمان
ستا په څېره باندې اشعار وَ لیکم

---

## نظم ۹ـ "سل څېرې"

ستا په کاڼو به غمازه !
زما دَ زړه وړه ایندارہ
کړیچې کړیچې شې ، منمه
خو ، دا یاد لره نا پوهه !
که مات شوی هر توکری
وَ اینداری ته مُونبږې
نو کوربه مې دَ زړکې هم
سل ځېرې شې زبږَولی

---

## نظم ۱۰ـ "تسلیمې جذبې"

اوس به لا ما ببرغ په لاس

په غال غال
دَ پښتنې مینې په نوم اخیسته
ستا دَ زړه مځکه په خپل واک کې ګله
چې مړامو سترګو دې له ما دَ مخه
په خوبَولو
او په مړو مړو کتو
زما دَ زړګي ټولې غښتلې جذبې
دَ بې همته عسکرانو غوندې
یوه یوه ځانته تسلیمه کړله

---

## نظم ١١ـ "کور کور یو مزار"

لا تر څو چې
دَ ټُکریزو په ارمان کې
دَ پښتو ناوې
په اور سپځې لاسونه
نو تر هغو به
کور کور دَ پښتنانه هم
لا په سیورو کې
دَ سرو شنو بیرغونو
ښکاره کېږي یو مزار
وَ نور عالم ته

---

## نظم ١٢ـ "بې حسه دېوال"

لارې لنډېږي
ورځ په ورځ لګیا دي
دَ شنه آسمان
او سپېرې مځکې تر منځ

خو فاصلې
پرتې هغسې دي لا
دَ زړو تر میانه
دَ غوښینو خلکو
چې ښکارې هر یو
په خپل ځای باندې ښخ
لکه
دَ ختو جوړ بې حسه دېوال
—

## نظم ۱۳ـ " ویدې لمحې "

ما خو خوبونه ټول
په ټکې ټکې
رښتیا کول په سپینه ورځ درباندې
ځکه مې سترګې هم ړُومبی له خوبه
را ویښېدَولې ستا په عکس هر سهار
او لټولې به ما تل معناوې
غرسنی پېغلې !
په نقشونو کې ستا ..،
خو چې خبر په حقیقت شوم کله
نو دَ خپل ژوند ویښې لمحې لا راته
ویدې ویدې غوندې محسوسې شولې
—

## نظم ۱۴ـ " پښتني هوډه "

اې دَ سپېره منې ناترسه سیلۍ !
اې تکې سرې او زورَورې سیلۍ !
بلد یم ډېر ښه له تا
چې ربړَوای شې پاڼې

وړای او راوړای شي وریځ
او هم له رېګه دروای شي غرونه
منم منم
دا به دي هم وَ منم
چي دُوړَوای شي خاوري
زما دَ بې حسه سُرت په قبر باندي
او نړَولای هم شي
زما دَ نامه ولاړه سپینه کتبه
خو ،
دومره واوره اې غاوري سیلۍ !
ما هم څینبلې دي شُودې دَ مورکۍ
زه هم یو ځوان دَ پښتني هوډې یم
نه یم ګُوبۍ دَ اوبو
او نه کیږدۍ یم چي به څیرې شمه،
نو ځکه پوهی شه چي وژلی نه شي
په زور دَ مستو څپو
زما دَ اُمید بله روښانه ډیوه
تر سپین سهاره پوري
او لا تر هغه دمه
چي پورته شوي نه وي
په ما پسې لاسونه

---

## نظم ۱۵- "رسوائي"

یو نوم دی چي یې وینم
ځای په ځای پر دېوالونو
دَ خپل نوم سره لیکلی
لکه زه او زما سیوری
چي په یو بل پوري اړ یُو
خو تر شا چي لار ته ګورم
ښکاري زما پلونه یوازې

## نظم ۱۶ـ ″ دَ ضمير ژغ ″

هغه يو ژغ چې زما تر غوږه راځي
له سترو سترګو مې خوبونه شَړي
تل مې دَ شپې وينښ تر سهاره ساتي

***

هغه يو ژغ چې زما تر غوږه راځي
ما دَ ژوندون په تقاضو خبرَوي
هم مې دَ وخت په زولنو خبرَوي

***

هغه يو ژغ چې زما تر غوږه راځي
ما ته سبق دَ سرېتوب راکوي
ما ته لار ليکه دَ رښتيا راښاي

## نظم ۱۷ـ ″ دمامې ″

سترګه سترګه
ګنډل شوې په بڼو ده
ژبه ژبه
چيچل شوې په غاښو ده
لاس او پښې هم
ماتې ځانګې دي، چې ځانګې
لنډه دا، چې
وَر دَ کور کور دی ترِلی
خو په ښار کې
دمامې دَ خپلواکۍ دي

## نظم ۱۸ ـ " شلې پښې "

لارې دَ احساس دي
که رګونه دي دَ وينو
چې دَ زړه له کوره وځي
دَ رنځونو وَ نړۍ ته
هم په ويښه
هم له خوبه
خو ، چې وخت دَ مزل راشي
نو دا غبرګې پښې شي شلې

## نظم ۱۹ ـ " پلمه "

څنګه دي وَ شرَم له ويښو سترګو
زما دَ ماشومې مينې
ځوان ځوان خوبه !
ستا دَ نړۍ په هر هر کانې ښکاري
زما دَ نامه سره ليکلې ، ګوره
هغه يو نوم
دَ هغې لوړې هستۍ
چې دی پلمه دَ شاعرۍ وَ ماته
چې دی پلمه دَ زندګۍ وَ ماته

## نظم ۲۰ ـ " څه شوه پښتو ...؟ "

څه شوه پښتو ...؟ غواړم ځواب دَ دنګو غرو زامنو !
هغه پښتو ... تورُه ، توپک او چې وفا يادېده

هغه پښتو... ښېګڼه ، پت او چې حیاء یادېده

***

څه شوه پښتو...؟ غواړم ځواب دَ دنګو غرو زامنو !
هغه پښتو ، چې په معنوي توګه وه ژواک او ژوندون
هغه پښتو... چې خال او خط وه دَ ځلاند سباؤن

***

څه شوه پښتو...؟ غواړم ځواب دَ دنګو غرو زامنو !
هغه پښتو... چې کاڼو بُوټو او شنېزو وئیله
هغه پښتو... چې اباسین او سېلابو وئیله

***

څه شوه پښتو...؟ غواړم ځواب دَ دنګو غرو زامنو !
هغه پښتو... چې ژغېده به تناګانو غوندې
هغه پښتو... چې پړکېده به برېښناګانو غوندې

***

څه شوه پښتو...؟ غواړم ځواب دَ دنګو غرو زامنو !
هغه پښتو... چې وه تورسرو ته پېزوان او والۍ
هغه پښتو... چې وه ځوانانو ته سدرۍ او خولۍ

---

## نظم ۲۱ـ " هغه هم ته وې -- "

چا ، چې تر زړه را جوړولې لارې
لا ، چې دَ چا به ما څارلې لارې
څوک چې ؤ ما ته تر جهانه راتېر
هم تر خپلوانو ، هم تر ځانه راتېر
دَ چا په یاد چې مې بانه غورځېدل
دَ چا په نوم چې مې وښته درېدل

لا ، چې لیدل مې تل خوبونه دَ چا
هغه هم ته وې ، بل څوک نه ؤ اشنا

---

## نظم ۲۲ـ " پټ لمر "

ما هم غوښتل
چې شینکی خال وَ وینم
دَ خپل زړګي دَ مېلمنې په تندي
چې زه یې سترګه بولم
دَ راندە بخت
هم دَ شپې شپې ژوندانه
له تورپېکي پټ
دَ ورک ورک رُوڼ سهار
خو ، دربغه دربغه په مزل کې دَ دید
په نیمه لاره مې ویدې شوې سترګې
په انتظار دَ یوې مستې څپې

---

## نظم ۲۳ـ " سپینې ماڼې "

دا دَ واؤرې سپین کورونه
چې مُونږې وَ شیشو ته
ټولې خښتې یې دَ خوُنو
لا خو دي دَ زیارکښانو
دَ محنت دَ خولو څاڅکې
لا خو دي دَ یتیمانو
لپه لپه یخې اوښکې
لا خو دي دَ مظلومانو
ټکی ټکی وچې وینې ....،
بس ، که لږ هم ژړی تود لمر

کښته راغلی مځکې خواته
نو يې ګورئ چې ويلېږي
د ښوالونه خپل تر خپله

---

## نظم ۲۴ـ "اوږد مزل"

زما او ستا تر مابين
هغه دَ درو لوستو وړه فاصله
دَ کمکۍ مينې ځوانېدو په هيله
څونې اوږده شوه ، ګوره
چې تر يو بله رسېدو له مخه
ما او تا دواړه ګرانې !
دَ لېونۍ ځوانۍ تر ټاک واوينښتو

---

## نظم ۲۵ـ " زړه "

نړېدلي د ښوالونه جوړ شي بيرته
رژېدلې څانګې هم وَنيسي پاڼې
خو ، يو دغه اوړ مارغه دی
چې ټپي شي
دَ نفرت په يوه تريخ کاته هم دُونې
چې وزَر کله تلي وَ الوتو ته
نو اندام اندام يې وَ ژاړي له خوږُو

---

## نظم ۲۶ـ "يوه پوښتنه"

که هر انسان په ژوندانه کې ځانته

لري په ژوند باندې حق ...
نو، دا پُوښتنه کوم
چې څوک دی هغه ماشوم
دَ سرې زُوی دی که يَه ؟
چې په ټولنه کې نن
په تشه خېټه او په وچو شُونډو
خوار او ناهيله غوندې
دَ ساتېرې او کورَکيانو په ځای
له بودګانو سره
دَ يو بوده په رنګه
په امبارونو باندې
ګرځي خواره لټوي

---

## نظم ۲۷ـ "ستوري"

څونې ويدې ستوري
په تک ژېړ سهار
سمې له خوبه ويښېدو څخه بيا
دَ ورک تعبير دَ لټولو په ځای
په خپلو اوښکو تور بانه پرېمنځي

***

څونې اومې ستوري
په سره غرمه کې
دَ لوږو تندو دَ وژلو په نيت
دَ ستړي زيار په ښښېدلو خولو
سوځوَي خپل نازک او وچ وچ لېمه

***

څونې ښائيسته ستوري
په ضد دَ تيارو

له توربخون غوندې ړُومبي ماښامه
په ځای دَ اوښکو دَ زړګي په وينو
بلوي تېوله شپه ډيوې دَ حسرت

***

خو ، دريغه دريغه
بيا هم نه شو راويښ
ويده نصيب دَ دغو خوارو سترګو
چې دَ ژوندون ځېرې له ورايه په کې
په نوې نوې رنګ ځلېږي هميش

---

## نظم ۲۸ـ " په ځُله يوه او په زړه بله "

لارې اوړدې دي ځونې
دلته دَ زړونو تر منځ
چې ، دَ امکان اسپې هم
ښکارې پرې ستړې ستړې
خو ، بيا هم سترګې ويني
دغه غوړ ژبي خلګ
دَ ببل ببل کلي خلګ
اړکيه په سلو رښتو
لکه کړۍ دَ زنځير

---

## نظم ۲۹ ـ " قلم "

که خبرې کړي لاسونه
نو ، به وَ منمه دا هم
چې يې نه شي ړنګولی
دَ بخت کرښې له ورغَوې

نه دَ وخت سیلۍ بادونه
نه دَ اوښکو سېلابونه
نه باران باران ځُړتونه
لاکن بیا هم په تندي زما
شي راغونډې يو څو ګونځې
چې قلم وَ وينم کله
په درو ګوتو کې دَ " ها " لاس
چې په کښلو دَ څو ټکو
یدلوي رابذلوي تل
لیکل شوي قسمتونه

---

## نظم ۳۰ـ " ګونګۍ مینه "

چې زه بلنه درکول غواړم دَ مینې اشنا !
ستا دَ ښائیست په نظارو کې په کتو شمه بوخت
نشه نشه شم او په تا کې په ځُرتو شمه بوخت

***

چې زه بلنه درکول غواړم دَ مینې اشنا !
له ډېره وهمه وَرپېږم او خوله خوله شم
وَ سوځم اورغوندې په ځان کې او یره یره شم

***

چې زه بلنه درکول غواړم دَ مینې اشنا !
راته څرګند شي ستا په سترګو کې انکار له ورایه
په ځای دَ مینې دَ نفرت یو تریخ اظهار له ورایه

***

چې زه بلنه درکول غواړم دَ مینې اشنا !
یخ شي لفظونه بیرته ټول په سر دَ ژبې زما

ځکه چې مينه وي ګونګې، نه شي کولی وينا

---

## نظم ۳۱ـ "بڅرکې او يرې"

دَ ښائيست دغه بڅرکې
چې له اوره دَ ځوانۍ ستا
تل دَ ماتو ستورو غوندې
يوې بلې خواته غُورځي،
هم دغه رنګه به ډېر ژر
دَ غرور په نغري کې
په لټون دَ سرو سکروټو
مړې ايرې دَ دې وختونو
وَ لړې را وَلړې ته

---

## نظم ۳۲ـ " دَ سبا په آئينو کې"

دَ پرون ښکلې مخونه
که نن ګونځې ګونځې ښکاري
نو بايد چې دَ نن ورځې
ځلنده ښائيست لرونکي
چټې پېغلې او ځوانان ټول
خپله خپله سر دَ پاسه
دَ غرور ښکرونه مات کړي
او په دې حقيقت پوهې شي
چې هغوئ به هم ښکارېږي
دَ سبا په آئينو کې
لکه وچې شاړې ونې

---

## نظم ۳۳ـ " خالي ځانګو "

امېلونه دي دَ کرکو
که هغئ هم
یو په یو راته پئیل
په تار دَ مینې
نو دي څله دَ نامه لاکټ
په جار جار
راپه غاړه کړو په خپل لاس
دَ زړه سره !
چې اوس هم ګوره لا ځانګي
په سینې زما
دَ خالي ځانګو په رنګه
دَ یو کوُنډې

---

## نظم ۳۴ـ " وام "

راغزېږي زما په لورې
یو تک سُور او ترکېدونکی
دَ سکروټې په شان بل لاس
هم په ویښه
هم له خوبه
خو ، چې زما تر مرۍ رسي
نو بانه پرې وَنښتېږم
په وړو وړو سُلګیانو

---

## نظم ۳۵ـ " څه تمه ؟ "

خپله سایه مې هم یوازې پرېږدي
چې دَ مابنام زُلفې خورې شي په لمر
ته خو څراغ لا دَ بل کور يې اشنا
له تا به تمه دَ رڼا څه کوم ؟
له تا به تمه دَ وفا څه کوم ؟

---

## نظم ۳۶ـ " دَ خپله لاسه "

بخت په ما پورې ګرم نه دی
نه وختونو یم ترټلی
ما خو خپله دَ خپل لاسه
دَ ماشوم زړګي په خوښه
دَ یو چا په خوا خوږۍ کې
په صله دَ خوږې مینې
په اثر دَ مړامو سترګو
دَ سکون ډک جامونه
چَپه کړي دي پخپله

---

## نظم ۳۷ ـ " ببلېدل ګران دي "

چې دَ اشنا دَ هېرَولو په نیت
په واښ دَ صبر ځان ترمه څونې
او لا یې عکس عکس پرېمنځل غواړمه
دَ خپلو سترګو له ایندارو څخه،
دُونې مې زړه شکوي تنهایانې ورته
او راښخېږي له اوله هم زیات
لکه په ځوزو پېچل شوي وربېښم
چې خلاسَوې یې څنګه څنګه په پام
هغونې دوئ په کې اړکېږي نور نور

## نظم ۳۸ـ " عدالت "

زړګی خو غواړي مُدام
چې دَ مارغه په رنګه
بالا بالا الوتی
او دَ بورا په چم یې
ګل ګل ښائیست څټَلی
دَ ژوند له هرې څانګې
خو ، ویښ ضمیر یې تړي
دَ فرار لارې تړولې
په دلیلونو باندې
ځکه خو هر انسان دی
ځانته یاغي هم خپله
ځانته قانون هم خپله

## نظم ۳۹ ـ " هکله * "

دا چې دَ غره له لورې
بیرته ورغبرګه شي ژر
کلکه هکله دَ شپون
نو دغه لوُنې ، زامن
دَ دنګو غرو هم باید
چې ژبې وَ نه تړي
دَ بودګانو غوندې
که سرببره پښتو
په چیغو چیغو له دوئ
غواړي دَ سر پرونی

---------------

* هکله ـ (په "ترینو" پښتو کې "چیغه" ته وای)

---

## نظم ۴۰ ـ "لټون دَ سیوري"

وړاندې په لاره دَ ژوند
او چتَوم ګامونه
تش په دې هیله همېش
چې زه به هم وسا کړم
کله په یخ سیوري کې
ستړیا دَ سترې وجود
خو ، دَ دې وخت ناترسه
تودو تودو غرمو کې
نه ښکاري چېرې راته
له پاڼو ډکه ونه

---

## نظم ۴۱ ـ "اشتهار"

هغه حیاء او دَ حیاء مجسمه
هغه دَ کور او دَ عزت مېرمنه
دَ نوې دور له تقاضو سره نن
څو مره بېباکه غوندې
سترګو ته وړاندې وړاندې
لکه لېبل دَ شُهرت
لکه ټائیټل دَ کتاب
دَ خپل ښائیست په سوب
دَ ژوندانه په ښاریو کې ښکاري
دَ هر بازار په دُوکانو کې دلته
دَ شرافت په لمن
دَ پېغلتوب او بې شرمۍ اشتهار

## نظم ۴۲ـ " دَ وخت زلزلې "

کربښې دَ لاس وي
بېلې بېلې لارې
دَ ليکل شوې نصيبې ... منمه
خو ، چې منګولې دَ چا ډکې وي تل
دَ ارمانو په ځای
په سرو تنکو
نو ، دَ هغوئ دَ ختو مېنې څله
نړوي هر کله دَ وخت زلزلې ؟

## نظم ۴۳ـ " خپلواکه کوچۍ "

په زړه منګولې لګول دَ کوچۍ
خپه دَ باد نه ده نيول
نو څه دي ؟
چې دَ نازکو بُوړېکيانو غوندې
تل په ټولۍ کې له همزولو سره
دَ ژوندانه دَ هر ماښام دَ مخه
کله په دشت
کله لمن کې دَ غره
خپلې کيږدۍ يانې دروَي په اوبو

## نظم ۴۴ـ " برخې "

ته هم ويده شه زياته
اې دَ ويده بخت سر ته ناست زړګيه !

ویده وي مړي دَ ګور
او مړي نه شي ورکولای چاته
برخې دَ ژوند هیڅکله

---

## نظم ۴۵ـ " کربښې دَ یار په نامه "

بې تا مانده دَ ژوند په تول یم ځکه
چې ستا له جوره ستر ګه ستر ګه شو مه
لکه خورَه ورَه ښکلا دَ سپرلي
چې په اؤو رنګو کې ستر ګې ګټي
خو ، دَ زړ ګي په برخه تل وي تیارې

***

بې تا مانده دَ ژوند په تول یم ځکه
چې ستا له جوره شو مه سیال دَ خلګو
لکه سره ځوانه یښبېد لې وینه
چې په رګو کې وي دَ ژوند علامت
خو ، هسې ښکاري سره سیاهي دَ قلم

***

بې تا مانده دَ ژوند په تول یم ځکه
چې ستا له جوره څړیکه شوم دَ پُرهار
لکه تېره تېره ازغي دَ بُوټو
چې پاملرنه دَ ګلونو کوي
خو ، پرانوي دَ احساس لارې په درد

***

بې تا مانده دَ ژوند په تول یم ځکه
چې ستا له جوره تکه سره غرمه شوم
لکه وختونه دَ اور اور پېعلتوب
چې دَ وجود غوښه په تاؤ ویلوي

خو ، سوځېده لکه ققنس له ځانه

***

بې تا مانده دَ ژوند په تول يم ځکه
چې ستا له جوره ژوند ته لارې غواړم
لکه دَ بر بيوان تنها مسافر
چې لټوي خپل بې درکه منزل
خو ، فاصلې دَ محرومۍ اوږدې دي

***

بې تا مانده دَ ژوند په تول يم ځکه
چې ستا له جوره يم لاهو په ځان کې
لکه تازه غوندې يو مړى دَ ګور
چې ورته پورته وي لاسونه همېش
خو .. اديره کې نه وي نخښې دَ ژوند

---

## نظم ۴۶ ـ " وينبه شپه "

سر دَ پاسه دا رُوڼ ستوري
بل څه نه دي ، سرې بڅرکې
چې له اوره دَ هجرانه
الوتلي وي آسمان ته
هم په دې خو حسرتونه
په اوږو دَ اُميدونو
دَ سهار په هيله سترې
دَ وچ بُوټي په چم سوځي
دَ بې خوبه سرو سرو سترګو

---

## نظم ۴۷ ـ " ترانه دَ ياغي مينې "

دلته خو سترګې او اینداري ووړ نظره ښکاري
دلته تیارې دَ بېلتانه له مازیګره ښکاري
دلته ګرېوان وي دَ غماز په لاسو چاک دَ مینې
راشه چې جوړ کړو په یو ستوري خپل وتاک دَ مینې

***

دلته کاختې ده دَ سکون ، وختونه سوځي په اور
دلته آثار نه شته دَ ژوند ، ښکاري کور کور لکه ګور
دلته سرې سرې اوبښتې دي تر ټاک دَ مینې
راشه چې جوړ کړو په یو ستوري خپل وتاک دَ مینې

***

دلته په لارو زېږه کاڼي او ازغي پراته دي
دلته خو څلې په هرګام دَ محرومي پراته دي
دلته باران ته دَ خلوص تږې دي خاک دَ مینې
راشه چې جوړ کړو په یو ستوري خپل وتاک دَ مینې

---

## نظم۴۸ـ " کوږکی "

څونې به ښه وای که موږ خپله بېرته
هغه ګړۍ وای نړولی هلته
له خاورو جوړ هغه کوچنی کوږکی
هغه زموږ دَ ناوکیانو مسکن
چې ما او تا جوړ کړی ؤ په مینه
دَ ماشوالې په تودو غرمو کې
اې دَ غریزې سیمې پېغلې جلۍ !
نو به هیڅکله ګرځېدلې نه وای
هغه ناورانه کوږکی دَ یادو
په تا چارپېره لکه شپول دَ شپوږمۍ

او نه به ما وای سنجَولی کله
دغه ستا کور دَ ارمانون زیارت

---

## نظم ۴۹ـ ˝ژوندی ادیره˝

دا خو ګنه ادیره ده
چا وئیل چې ښاریه ده ؟
دلته دي ټوله قبرونه
نه بازار شته ، نه کورونه
مړ احساس دی ، مړې مړې سترکې
مړې جذبې ، مړه ضمیرونه
هر سړی دی کفن کښونکی
ځکه ژوند په کې ساه اخلي
هم په هر ګام دي ولاړي
فرښتې دَ مرګ خارمړي

---

## نظم ۵۰ـ ˝ خیالي تړون˝

اې دَ اشنا په باب دَ وینښې خوبه !
کله خو ته هم شه رښتیا په هېره
چې زه هم وَ وینم دَ سترګو وړاندې
دَ خپل خیالي یار نالیدلې سترګې
چې مې زړګی تخنوي
چې مې اروا موسَوي
هوکه ، هغه چې تهمتي یم باندې
له ننه نه ، زما له ژونده راهسې
خو ، بیا هم نه شوې ټولې
ګنې تیارې دَ هجران
او نه سهار شو کله

زما په دې شپه غوندې ژوند

---

## نظم ۵۱ـ " مينه "

مينه جذبه ده ... منم
مينه کښه ده ... منم
مينه ړنده ده ... منم
مينه کتاب دی دَ ژوند
مينه نصاب دی دَ ژوند
هر څه هر څه ، خو انقلاب ده مينه
پښتني هوډه ، مست سېلاب ده مينه
غرونه دَ وخت دي ورته لُوټې لُوټې
دَ رواياتو پرې پرې دي ورته
مرګی هم ځان په ګوتو نه ورکوي
ځکه خو هر مئين زړګی وي ياغي
او دَ ياغي جذبو له اوره امان
چې ... په سره تاؤ کوي خوله په کاڼو
هوکه ، په هغه کاڼو
چې دَ ړلۍ غوندې ورېږي په دوئ

---

## نظم ۵۲ـ " دَ ګل په نامه "

ويارمه.... زه په ازغي ځان هر کله
ځکه چې اې ناپوهه ښکلې ګله !

" پاي له ژونده دَ فنا قدرونه
پاي له خاورو دَ بقا قدرونه
پاي له کاڼو دَ دُنيا قدرونه
پاي له شپې دَ سپين سبا قدرونه
پاي له خيرو دَ ښکلا قدرونه "

نو ، ته هم پوهې شه که دانا يې ګله
ګله ! که ګل يې ، نو له ما يې ګله

---

## نظم ۵۳ـ " پټ پُټانې "

ځينې سترګې دي
چې ما دَ ورکو غواړي
ځينې سترګې دي
چې زه يې ليدل غواړم
خو
نه لاره دَ طلب رسي وَ سر ته
او
نه دغه پټ پُټانې زموږ تر منځه
درَوي دَ صبر جګ جګ دېوالونه

---

## نظم ۵۴ـ " پښتنه پېغله "

ته په خوُی دَ غرسنۍ يې ، تا په کوم نامه وَ ستايم
ته باران يې ، ته سيلۍ يې ، تا په کوم نامه وَ ستايم ؟

دَ پټکي شمله ده هسکه ستا له جوره دَ پښتون پلار
ته په ښځه ځان زمرۍ يې ، تا په کوم نامه وَ ستايم ؟

ستا دَ سترګو په حجرو کې دَ خلوص مېلمانه اوسي
ته نرګاړې انجلۍ يې ، تا په کوم نامه وَ ستايم ؟

ستا په مينه کې پښتو ده ، ما ته نه منې له مرګه
ته هم لُور دَ ملالۍ يې ، تا په کوم نامه وَ ستايم ؟

له بنګړئيو او له ګوتکو ، خوښې دي په لاس ببرۍ ستا

ته ببرغ دَ خپلواکۍ یې ، تا په کوم نامه وَستایم ؟

ستا خندا ده دَژوند زېری ، ستا په خشم کې مرګی پټ
ته ورېمه یې ، ته سیلۍ یې، تا په کوم نامه وَستایم؟

ستا په ژغ کې خوږ سرور دی، خوندکوي تل ژغېده ستا
ته نغمه یې، ته شپېلۍ یې، تا په کوم نامه وَ ستایم؟

ستا چې پټ وي ترڅو پورې دَ حیاء په پلوْ مخ لا
ته اومه غوندې غوټۍ یې ، تا په کوم نامه وَستایم؟

وچ دي شي هوس دَ ستورو ،چې به ستا وړاندې ځلېږي
ته سکه خور دَ سپوږمۍ یې، تا په کوم نامه وَ ستایم؟

ستا ښائیست دی له فطرته ، وَ نخرو ته دي حاجت څه
ته بې تاجه هم رانۍ یې ، تا په کوم نامه وَستایم ؟

ستا شېوه هم لکه شمعه دَ تیارو په ضد سوځېږي
ته رڼا دَ زندګۍ یې ، تا په کوم نامه وَ ستایم؟

هیڅ دي هرڅه بې تا دلته ، که ایندارې دي که سترګې
ته دَژوند اصل ستنۍ یې ، تا په کوم نامه وَستایم؟

شوق هم ستا په تصور کې ، تر مړۍ نیسي غمونه
ته سوب دَ سوکالۍ یې ، تا په کوم نامه وَ ستایم؟

---

## نظم ۵۵ـ "دي آئرن ایج"

دَ پرون ټوله خوبونه
ټول سوچونه
ټول خیالونه
نن رښتیا دَ ژوندانه شول
ارَبې له حرکته

دَ اېتېم له برکته
خو ، مرګی ، هغه مرګی دی
چې دَ "جین بم" په وسواس یې
دَ روبوټ غوندې انسان هم
په خپل غم دی لا نیولی

---

## نظم ۵۶ـ "یوازې نه یم"

یوازې نه یم ، اندېښنې لرمه
دَ زړه په سر بلې لمبې لرمه

"ځکه خو کله خوب له خوبه ګرځم
کله دَ شنې لُوخړې غوندې ترځم
لا دَ تیارو دَ یو ملګري په چم
په هر دویم قدم دَ ورځې پرځم"

یوازې نه یم ، وسوسې لرمه
ځانته چارپېره ځو ساې لرمه

"ځکه خو کله له خپل سیورې تښتم
کله له وامه دلې دُورې تښتم
دَ مرګ له خلې او دَ اجل له ګولې
له ښاره زه دَ غره په لورې تښتم"

---

## نظم ۵۷ـ "سباؤن"

دَ پرونۍ شپې
دَ ښائیسته غوندې خوب
که تعبیر "نن" وګڼم
نو به دَ ژوند

په غم لړلي لمحو
او چارپېرچل کې دَ وخت
زه خوار په وړې خپته
وَ لرم هیله په څه
دَ خندني سباؤن ؟

---

## نظم ۵۸ـ " پیسې "

دَ سهار له لمر ختو
دَ ماښام تر خوربدو
ټول اقدار دَ ژوندانه
ورکړه راکړه بد او ښه
ګوا هر څه او تقاضې
نن سبا ښکاري پیسې

---

## نظم ۵۹ـ " نفس "

هغه سړی

هغه نو موَړی سړی
هغه غښتلی سړی
چې ما ترڅان دباندې
خپل چارپېرچل کې چېرې
نه کړو مونده کله هم

هغه سړی

هغه غاوٍره سړی
هغه جابره سړی
نن ورځ په خپله بنه

ما په خپل ځان کې وَلید
دَ زړه په سترګو باندې

---

## نظم ۶۰ ـ " یوه خطا "

کشکې زه رُومبی خبر وای
فقط دو مره
هو که ، دو مره
چې یو ورځ به زه او زړه هم
سم سره له آرزو ګانو
دَ دې خپلو سرو سرو اوښکو
په سېلاب کې وَ یهېږو
لکه ختې
لکه شګې
او لا خړ کچه کورونه
نو به نه وای ورګډ شوای
کله هم دا سې په مینه
زه دَ مینې وَ دریاب ته
لا دَ هغو ښکلو سترګو
دَ خُمار ډکو چینو ته
چې تر ننه یې نشو کې
لامبو زن لامبو زن ښکارم

---

## نظم ۶۱ ـ " عقیده زما دَ مینې "

چې له خدائیه که بل چا ته
اجازه دَ سجدې وای
نو به ما وای لګولی
خپل تندی وَ هغه یار ته

چې هم خپله تل ولاړ وي
وَ بُتانو ته خاورو
لاس نړلی ..لاس تړلی
دَ اغراضو په مندر کې

——

## نظم ۶۲ ـ ″ څوک به واي دَ ناز غاړې ؟″

څوک به واي دَ ناز غاړې ؟
دَ ساه ګانو په دې لوبه
چې یاد بړي په نامه ژوند
خو ښکارېږي دَ خوب غوندې
خاورې خاورې
سپېرې خاورې

ـ ۲ ـ

څوک به واي دَ ناز غاړې ؟
دَ اُمېند په ورېمو باندې
چې ښکلاؤې زېرَوي تل
خو څګلی یې څوک نه شي
لکه زهر
تراخه زهر

ـ ۳ ـ

څوک به واي دَ ناز غاړې ؟
دَ وختونو په دې ناوې
تر سپرلي چې هم ده ښکلې
خو همېش له غمه ژاړي
لکه کونډه
خواره کونډه

ـ ۴ ـ

ځوک به واي دَ ناز غاړې ؟
دَ دې ژوند په موسمونو
چې بدلېږي رابدلېږي
خو سکون په کې هغځ لا
همېش ښکاري
یو پُوښتنه

---

## نظم ۶۳ـ " جنون "

ورک یم له ځانه زه په تا کې دُونې
دَ انتها ، چې انتها ده ځونې
خو بیا هم زه دَ ویده بخت له جوره
په ویښه لرې یم له تا هغونې

***

ورک یم له ځانه زه په تا کې دُونې
چې زما دَ فکر ژورتیا ده ځونې
خو بیا هم زه دَ سترګو وړاندې مُدام
ښکارم بندي دَ خپل وجود هغونې

---

## نظم ۶۴ـ " ړنده نړۍ "

لمر که خبرې که ډُوبېږي
خو دا څُونه
دَ زړه څُونه
لکه تور لحد دَ مَړي
چې وړانګه هم دَ رڼا لا
نه شي کښلی ورته لاره

---

## نظم ۶۵ـ " ؟ "

یو خواته مري
سړی سړی له تندې
وَ یوه ګوتې ته
دَ خواهش دَ چیني
او بلې خوا ،
ډُوبېږي ښځه ښځه
په خپل اوبه غوندې وجود کې خپله
لکه سُوروی کشتۍ
په شنه درياب کې

---

## دريغه

---

غهېدر ېچ ېکـلښ ګخل
پـوه ىوا پــه انقــدرځ
اوىدلېرېوړهمل
لـه تمونوتـــور د ېشـپ
اى لـه راېخزانتلونـــــک
نـو بــه يــې ونــهږز د بـل
ېداس پــه ظلـم ظلـم
لانــدي كـول نـه كلــهيــځه
د خپلــو وښپ  تــر تلــو

---

## نظم ۶۶ـ " پښتو "

هغه څوک ده ؟
دَ چا لُور ده ؟
دَ چا وينه ، دَ چا خور ده ؟
چې په سرو سرو اوښکو ژاړي

سر ببره، در په دره
دَ ژوندون لارو کوڅو کې
په مخ لُوڅه
په پښو لُوڅه
په زَړو څیرو جامو کې
سرگردانه ، پرېښانه
په وجود ستړې ستومانه
له خپل ځانه بې خبره
له جهانه بې خبره
دَ بې رحمه وخت په لاس کې
لېونۍ سپېڅلې غوندې
په ارمان کې دَ نکریزو
یېغلتوب بائیلې زړېږي
په فریاد فریاد ژغېږي
چې ، اې خلگو !
ړندو خلگو !
ماته وَگورئ ، زه څوک یم ؟
دَ چا لُور او دَ چا خور یم ؟
زما په سر پړونی نه شته
زما لاسونه بې بنگړئیو
زما غوږونه بې والئیو
آخر ولې ... آخر ولې ؟
یَه دَ وخت زامنو ولې ؟
زه بې وسه ، بې آسرې نن
زه بې کوره ، بې پړدې نن
دَ خپلوانو په لټون تل
دَ مُراد کچکول په لاس کې
دَ سوالگیرې په شان گرځم
زه سوالگیره ؟
زه سواگیره ؟
سترگې رُونې کړئ یَه خلگو !
دَ غفلت دَ تیارو خلگو !
ما هم وَ پېژنئ خلگو

زه دَ دنګو غرونو لُور یم
زه پښتو یم
پښتنه یم

---

## نظم ۶۷ـ " فاصلې "

یو قدم په زیږه کانې
بل قدم په ازغن بُوټې
خو ، لا هغه فاصلې دي
دَ ژوندون دَ خواهشاتو
چې لنډېږي نه هیڅکله
په دې لارو زوال جنو

---

## نظم ۶۸ـ " ازلي تړون "

کومه ورځ چې ستا دَ زُوکړې وه
هغه ورځ
ما لیدلي وه په ویښو سترګو باندې
په ینداره کې
خیالي غوندې څېره ستا

کومه شپه چې راته مرګ وله
هغه شپه
تا په مینه زما دَ زړه په واړه غولې
دَ تیارو په ضد
څراغ دَ ژوندون بل کړو

---

## نظم ۶۹ـ " دَ رڼا ملګري "

ته دَ رڼا سره سم ځغلې
دَ ماښام په لورې
او زه دي سیوری دَ وجود یم
تا سره سره ځم
خو ، دَ ببل ببل فطرت له جوره
ما او تا هم مُدام
چې څونې دواړه لیدل کېږو
څنګ په څنګ دَ ورځې ،
دغونې ورک شو له یو بله
په کوڅو کې دَ شپې

---

## نظم ۷۰ـ "دَ طلب تنده"

چې دَ سوچ هر یو نیلی مې
دَ اُمید له هر ګودره
دَ جانان په طلب ستړی
او ناهیله غوندې بیرته
دَ ماښام خواته ، راغبرګ شي
نو ، په اوښکو یې دَ سترګو
اوبَو مه تنده داسې
لکه زه چې یې له ورکو
ټوله ټوله ورځ غوښتمه

---

## نظم ۷۱ـ "ټپ دَ نامه"

که له سترګو
زما دَ هر یو عکس په رنګه
زما دَ نوم
هغه تک شنه او مړه حرفونه

چې تا کښلي په سپین لېچ ؤ
په نری ستن ،
لا هم بیرته
په پنر وَ پڅَې ګله !
نو
هغسې به یو ټپ
لکه ایندا ره
زما دَ یاد هره څېره تل
په تا وینې

---

## نظم ۷۲ـ " تلکې "

که تښتېده غواړې څوک
له خپله ژونده چېرې
نو به په کومه تښتې ؟
چېرې به مخه کوې ؟
ځکه چې ښکارې هر لور
دېوال دېوال رسمونه
غُونډې غُونډې خنډونه
دریاب دریاب غمونه
او لا ، قدم په قدم
ولاړې دې تلکې

---

## نظم ۷۳ـ " آخري سندره "

نه شمه پاللی بس ...... نورې اندېښنې زیاته
نه دَ وِیر شپېې زیاته ، نه دَ ژوند لانجې زیاته

***

چاته لُوند ازغی ښکارم ، څوک غمَوې ژوند په ما

چاته خوارَکی ښکارم، ځوک وهي پسخوند په ما
نه شمه زغملی تل ، داسې مسخرې زياته
نه دَ وِير شپېې زياته ، نه دَ ژوند لانجې زياته

***

ځونې چې نېستمن يمه ، دُونې مانده تول لرم
ځونې چې غمجن يمه ، دُونې تش کچکول لرم
نه شم ټکولی زه ، بندې دروازې زياته
نه دَ وِير شپېې زياته ، نه دَ ژوند لانجې زياته

***

دلته مې لمر ملا سپځي ، هلته دَ کلو مزل
دلته مې خپل بخت ترټي ، هلته په ارغو مزل
نه غوارم ساتل شوقه! ساه سره رښتې زياته
نه دَ وِير شپېې زياته ، نه دَ ژوند لانجې زياته

Download from: aghalibrary.com